مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۲٤مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۱٤مه | دویم کال| ۳۱۷مه ګڼه
2 017550 139621

هېواد

۴ مخ

## لوېدیځه صحرا

د دغه هېواد ۵۵ سلنه خلک د کرنې او څارویو د روزنې او د کبانو د نیولو په برخو کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۲ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکتور څخه لاسته راځي.



## سرور دانش: په ټاکنیزو کمېسیونونو کې فساد د ملت او دولت باور ته جدي زیان رسولی دی



Courtesy Image - Social Media

۳

ټاکنیز کمېسیونونه؛ د حکومت بدبویه شوي اصلاحات

۲ مخ

د افغان ځوانانو د وزګارتیا څو عوامل او حللارې

۲ مخ

د نړۍ تر ټولو پاک ځایونه په کومو هېوادونو کې دي؟

۵ مخ

## په میدان وردګو کې پر زرګونو کورنیو د هګیو چرګان وېشل شوي



د میدان وردګو ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، د کورنیو د اقتصاد د ښه والي په هدف، د نوموړي ولایت په څلورو ولسوالیو کې پر زرګونو کورنیو د هګیو چرګان وېشل شوي دي.

د دې ادارې رییس ولي احمد تسل پرون ازادي راډیو ته وویل چې له چرګانو پرته، له دغو کورنیو سره د چرګانو دانه، د اوبو څښلو لوښي او دغه شان د چرګانو د ساتنې د ځای لپاره د جالیو او دروازو مرسته هم شوې ده.

ښاغلي تسل وویل، دغه کورنۍ کولای شي د چرګانو د هګیو په خرڅولو سره خپل اقتصاد ښه کړي.

د نوموړي په خبره، دوی هڅه کوي چې کورنیو او بیا په ځانګړي ډول د ښځو د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره له دې زیاتې مرستې وکړي.

## معترض نوماندان: تر اوسه مو غوښتنو ته رسیده‌ګي نه ده شوې

د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې د درغلیو په تړاو په مرکز او ولایتونو کې د اعتراضونو په لړ کې د کندوز، بدخشان، تخار او بغلان ولایتونو معترض نوماندان را غونډ شوي او وایي چې د ولسي جرګې د ټاکنو په ورځو کې په دغو ولایتونو کې پراخې درغلۍ شوې دي.

دوی وایي، د دغو ولایتونو ټولې رایې باید له سره وشمېرل شي، له بایومټریک پرته کارول شوې رایې باطلې، پاکې رایې له ناپاکو جلا او یاهم باید د دې حوزې ټولې رایې باطل اعلان شي.

د دغو معترضو نوماندانو له ډلې محمد اکمل مونس وویل: «له مدني او قانوني لارو خپلو اعتراضونو ته دوام ورکوو، که مو غوښتنې ونه منل شي، نو له خپلو دوستانو سره په مشوره په نورو ممکنه لارو هم غور کوو».

په ورته وخت کې د هرات ولایت معترض نوماندان هم د ولایتي اداري مخې ته را غونډ شوي او د دغه ولایت د ولسي جرګې تېرې ټاکنې له درغلیو ډکې بولي.

دوی وایي، د هرات ولایت ټولې رایې دې بیا وشمېرل شي او د دغه کار د نه ترسره کېدو په صورت کې به ټولې لوېې لارې د خلکو پرمخ وتړي.

د ولسي جرګې غړي هم د ټاکنیزو کمېسیونونو چارواکي تورنوي چې د پیسو په بدل کې یې مشخص نوماندان بریالي کړي دي.

دوی د ولسي جرګې تېرې ټاکنې د نه منلو بولي او ټینګار کوي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو په رهبرۍ کې باید تغیرات راشي.

## د سولې د هڅو جزیات باید له خلکو او حکومت پټ نه شي



۲ مخ

## وزارت داخله: جواز اسلحه اشخاص و شرکت‌هایی که ثبت فهرست مالیه دهنده ها نیستند، لغو میگردد



وزارت امور داخله می‌گوید که جواز اسلحه، تنها برای اشخاصی صادر می گردد که شامل فهرست مالیه دهنده گان وزارت مالیه باشد.

این ابلاغیه، دیروز در صفحه رسمی فیسبوک وزارت امور داخله منتشر شده است.

منبع گفته است که هزاران تن در کابل و ولایات دیگر، به بهانه اینکه امنیت شخصی شان در خطر است، از محافظین شخصی و خصوصی کار می‌گیرند و صدها تن دیگر نیز تقاضای جواز حمل سلاح نموده اند.

این وزارت گفته است، از این به بعد، وزارت امور داخله، تنها برای اشخاصی جواز اسلحه صادر خواهد کرد که اسم شان شامل فهرست مالیه دهنده گان وزارت مالیه باشد.

در ابلاغیه آمده است که در وزارت مالیه سه کتگوری مالیه دهنده ثبت است، کتگوری بزرگ، متوسط و کوچک. اشخاص و شرکت‌هایی که در فهرست مالیه دهنده گان ثبت نیستند، جواز اسلحه شان لغو می‌گردد و متقاضیان جواز اسلحه، تا زمانی‌که تصدیق از وزارت مالیه مبنی بر شفافیت مالیاتی به این وزارت نیاورند، جواز اسلحه برای شان توزیع نخواهد گردید.

منبع گفته است، منسوبین پولیس وزارت امور داخله با این کار، نه تنها مسؤلیت خویش را در ازدیاد عاید ملی انجام خواهد داد، بلکه در پیدا کردن سرمایه های مبهم، تشریح ناشده و دور از نظام مالیاتی افغانستان نیز گام خواهند برداشت.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019
Shigal English Academy
COMING SOON...

## دريــځ

### ټاکنيز کمېسيونونه؛ د حکومت بدبويه شوي اصلاحات

د ولسمشر دويم مرستيال د ټاکنو پر کمېسيون توندې نيوکې کړې دي. نوموړي ويلي چې د ټاکنيزو کمېسيونونو د کار د ځرنګوالي له امله د حکومت حيثيت او اعتبار تر پوښتنې لاندې راغلی دی. دانش ويلي چې کمېسيونونو د خلکو په حق کې جفا کړې ده. هغه يو ځل بيا په ټاکنيزو کمېسيونو کې د اصلاحاتو خبرې کړې دي. سرور دانش ويلي: «ټاکنيز کمېسيونونه بايد پوه شي چې د خلکو د صبر کاسه ډکه شوې او تر دې زيات نشي کولای چې د کمېسيونونو کمزورۍ وزغمي. اوس د ملي يووالي حکومت مکلفيت دا دی چې هر اړخيز اصلاحات راولي».

حکومت له هغه وروسته د ټاکنيزو کمېسيونونو په تړاو نيوکې پيل کړې چې ورمه ورځ د امريکا سفارت هم په کمېسيونو کې د اصلاحاتو غوښتنه وکړه. که څه هم ويل کېدل چې د ټاکنيزو کمېسيونونو کمېشنران تل ارګ ته غوښتل کېدل، سرور دانش او ولسمشر ورته امرونه کول او ان دوی ته يې توندې او نامناسبې خبرې کولې، خو دا خبرې پټې وې او تر خلکو پورې نه وې رسېدلې. اوس دا دی حکومت په ښکاره نيوکې کوي او د ټاکنيزو کمېسيونو غړو ته پيغام ورکوي چې ستاسې دنده نوره ختمه ده.

اوسني ټاکنيز کمېسيونونه، کمېشنران، اوسنی قانون او جوړښت هغه څه دي چې ملي يووالي حکومت پرې څه باندې دوه کاله کار وکړ او دا يې ټاکنيز اصلاحات وبلل. اوس ښکاري چې دا اصلاحات نه، بلکې تخريب و. د ملي يووالي حکومت ټاکنيز اصلاحات بدبويه شوي، خوسا شوي او خلک ورسره په تکليف دي. حکومت له دغو کمېشنرانو تمه لرله چې ولسي جرګه د دوی په خوښه جوړه کړي، که څه هم د حکومت ډېر سياسي مخالفين په قصدي ډول ناکام شول، خو په برياليو کسانو کې کمېشنرانو د ارګ د خوښې پر ځای خپل جيب ته پام وکړ او په دې ډول د ارګ او کمېسيون اړيکې ترينګلې شوې.

اوس چې حکومت بيا د اصلاحاتو خبره کوي، پوښتنه دا ده چې څه ډول اصلاحات به راځي؟

د حکومت ټاکنيز اصلاحات خو د ټاکنيزو کمېسيونو تخريب و، فاسد، غله او په ارګ او اجرايه رياست پورې تړلي کسان يې پر ټاکنيزو کمېسيونو واکمن کړل. کمېسيونونه يې هم د نور حکومت په شان ووېشل. د کمېسيونو ډېری اوسني غړي نه يوازې په سياسي لحاظ تړلي کسان وو، بلکې لوېدلي مفسدين هم وو. د حکومت د دغه تخريب او وېش بد بوی اوس احساسېږي. که دوی بيا هم راځي او کمېسيونونه بيا د اصلاحاتو په نوم له خپلو خلکو ډکوي او د اوسنيو کمېشنرانو په شان ارګ، اجرايه رياست او خپل جيب ته ژمن کسان ورته راولي، نو خلک به له ټاکنو نفرت وکړي او بيا به زړه ښه نه کړي چې ګوتې توری کړي. د ولسمشرۍ ټاکنې په مخ کې دي، ارګ به زياته هڅه وکړي چې خپل کسان کمېسيون ته بوځي، ځکه چې دوی يو ځل بيا غواړي چې د درغلۍ او فساد له لارې ځان واک ته ورسوي. له همدې امله سياسي ګوندونو، سياسي مخالفينو او خلکو ته پکار ده چې د ارګ د دې دسيسې مخه ونيسي. ټاکنيز کمېسيونونه بايد اصلاح شي، خو د حکومت اصلاح، اصلاح نه ده، بلکې بدبويي او د ټاکنيزو کمېسيونو تخريب دی. د اصلاحاتو لپاره بايد ټول سياسي مخالفين لاس سره ورکړي او خلک به يې ملاتړ وکړي، څو په رينښتني مانا خپلواک او پاک کمېسيونونه ولرو.

# د افغان ځوانانو د وزګارتيا ځو عوامل او حللارې

لیکنه: نصير احمد څپاند

په ګران هېواد کې د شته بېلابېلو ستونزو ترڅنګ، يوه هم د ځوانانو د وزګارتيا ستونزه ده چې له تېرو څو کلونو راپدېخوا زموږ ځوانان ورسره مخ دي. دا ستونزه ورځ تر بلې زياتېږي او د نړيوال بانک د تازه رپوټ پر اساس، په هېواد کې د ۱٦ ميليونو خلکو په شاوخوا کې د کار ځواک شته چې له دې جملې يوازې ۳ ميليونه افغانان روزګار لري او پاتې ۱۳ ميليونه هېوادوال يا کوچنۍ او يا هم هېڅ ډول دندې او روزګار نه لري.

د کار نړيوال سازمان يا ILO وايي چې ډېر مسلکي ځوانان يا نيمه ورځ کارکوي او يا هم پر غير مسلکي کارونو اخته دي. رپوټ زياتوي چې په نړۍ کې له ۱۵ څخه تر ۲٤ کلونو پورې د ځوانانو د بې روزګارۍ کچه ۱۳ سلنه پورته شوې ده. د داسې ځوانانو شمېر په ټوله نړۍ کې تر ۷۵ ميليونو تنو پورې رسېږي چې کار نه لري. په ترتيب سره په منځني ختيځ کې ۲٦،۵ سلنه او په شمالي افريقا کې ۲۷،۹ سلنه د ځوانانو د وزګارتيا کچه لوړه شوې ده. په اسپانيا کې له ۲٦ کلونو څخه د ټيټ عمر لرونکي ځوانان سم نيمايي بېکاره دي.

زموږ هېواد کې د بې روزګارۍ عوامل زيات دي، خو زه يې څو مهمو عواملو ته په لاندې توګه اشاره کوم:

۱- افغان حکومت نه دی توانېدلی چې د ځوانانو لپاره د کار موندلو يوه جامعه ستراتېژي او پلې کېدونکی پروګرام جوړ کړي.

۲- په ادارو او کارځايونو کې د پوهې، مسلک او اړتيا پر بنياد نه، بلکې د روابطو، بډو ورکولو، واسطې او نورو ناوړه لارو چارو پر بنسټ د دندو او حرفو وېشل دي چې ستر فساد يې زېږولی دی.

۳- د هغو پروژو او پلانونو نه بشپړول چې ځوانانو ته د کار پيدا کولو لامل ګرځي. له دې کبله انکشافي بودجه نه مصرفېږي او په غير مستقيمو لارو د دولتي مافيايي کړيو جيبونو ته ځي.

**دوزګارتيا اغېزې:**

۱- د سياسي او اقتصادي کړکېچونو زياتوالی چې د انساني قاچاقونو د لېږد مافيا ته زمينه برابروي، څو ډېری ځوانان له هېواد څخه تېښتې ته زړه ښه کړي او په بهر کې د افغان کډوالو له ستونزو لرونکو ټولنو سره يو ځای شي.

۲- ځوانان د دې پر ځای چې د وزګارتيا د عواملو د مالومولو په لټه کې شي، په نشو کولو او د مخدره موادو په استعمالولو اخته کېږي. د دې پر ځای چې دا فعال ځواک د ټولنې ستونزې حل کړي، پر خپله د ټولنې پر اوږو لکه بار پرېوځي.

۳- بې روزګاره ځوانان د زياتو ستونزو د درلودلو له وجې زده کړو، په تېره بيا لوړو زده کړو ته زړه نه ښه کوي او د مالي ستونزو له وجې خپل مالي مهارتونه نه شي زياتولی.

**حللارې څه دي؟**

لومړی تر هر څه حکومت ته لازمه ده چې د ټولنې د فعالې نيرو په توګه ځوانانو ته د کارموندلو موضوع د خپلو پلانونو اهمه موضوع وګرځوي. په خپله حکومت د دولتي سکټور په چوکاټ او د خصوصي سکټور د امکاناتو په رڼا کې ځوانانو ته د نويو پروژو د جوړولو په ترڅ کې کارونه او روزګار برابر کړي.

د دې لپاره چې ځوانانو ته زيات کارونه وموندل شي، د زده کړو ترڅنګ ځوانانو ته د لنډمهاله حرفوي زده کړو لکه رنګمالۍ، نجارۍ، وايرنګ کارۍ او نور کورسونه جوړ کړي. دا ډول زده کړې له يوې خوا کسبونه له عنعنوي بڼې څخه راوباسي او په عصري توګه يو لړ خدمات خلکو ته وړاندې کېږي او له بلې خوا کسبګر ښه عايد په لاس راوړي. د لنډمهاله کورسونو د اخيستلو په لړ کې ځينې ځوانان د خپلو مهارتونو د زياتولو په موخه عالي زده کړو ته مخه کوي او دا لامل په ټولنه کې د عالي زده کړو شمېر زياتوي چې د ټولنې په فرهنګي کچه مثبته اغېزه کوي.

د حکومتي او غير حکومتي سازمانونو په واسطه ځوانانو ته کارموندنه او د حرفوي زده کړو ورکونه د دې سبب کېږي چې ځوانان د علاقې وړ دندې پيدا کړي او بهر ته له بې ګټې مهاجرت څخه ډډه وکړي. افغان ځوانان په افغانستان کې د بهر په پرتله هوسا کار کولی شي. د هغه پوهه او تجربه ښايي کفايت وکړي چې يوه مړۍ ډوډۍ د خپل کور لپاره يو ځوان پيداکړي، خو په بهر کې د زده کړو او په عموم کې د فرهنګي کچې لوړوالي له امله ډېری افغان ځوانان پر شاقه کارونو اخته کېږي چې ډېر ځله د هغوی پر روح او روان بده اغېزه کوي.

## مشرانو جرګه: د سولې د هڅو جزيات بايد له خلکو او حکومت پټ نه شي

د مشرانو جرګې غړي او رييس وايي، د سولې روانه پروسه چې د امريکا او د سيمې د ځينو هېوادونو په هڅو پر مخ وړل کېږي، هر ډول خبرې او پرمختګ يې بايد له افغان حکومت او خلکو پټ نه وي.

دوی د يکشنبې ورځې په عمومي غونډه کې وويل، د سولې پروسه يو حساس پړاو ته رسېدلې او که دقت پکې ونه شي او د افغانستان ګټې او ارزښتونه پکې په پام کې ونه نيول شي؛ هېواد به له يوه بل ناورين سره مخ کړي.

د جرګې رييس فضل هادي مسلميار په دې اړه وويل: «پيغام به مو ښکېلو هېوادونو ته دا وي چې د افغانستان د ولس، حکومت او نظام پرته د سولې اړوند بحث کول او يا تصميم نيول به د افغانستان لپاره د يو بل ناورين بحث وي. بايد داسې تصميم ونيول شي، هر څه چې مخې ته راځي، بايد له افغان حکومت سره شريک شي او حکومت مکلف دی چې په اړه يې له ملت سره مشوره وکړي.»

د دې جرګې غړي ګل احمد اعظمي وويل، کومې خبرې چې د سيمې په کچه د سولې په اړه کېږي، ټولې له خلکو او حتا له افغان حکومته پټې دي.

دا په داسې حال کې ده چې له طالبانو سره د افغان حکومت د سولې د مذاکراتو په اړه د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد په دې وروستيو درېيو مياشتو کې پاکستان، اماراتو، قطر، ازبکستان، تاجکستان او ځينو نورو هېوادونو ته سفر کړی او د يادو هېوادونو له چارواکو سره يې له ليدو وروسته افغان حکومت ته د خپلو هڅو او پرمختګونو په اړه راپور ورکړی دی.

سربېره پر دې د سولې د عالي شورا د دارالانشا رييس محمدعمر داوودزي هم تېره اونۍ پاکستان ته سفر وکړ. نوموړي په خپل دغه څلور ورځني سفر کې د پاکستان د بهرنيو چارو له وزير شاه محمود قريشي او د هغه هېواد له سياسي او مذهبي مشرانو سره وکتل.

د سولې عالي شورا وايي، له داوودزي سره د پاکستاني چارواکو خبرې، هيله ښونکې وې. د دې شورا د اجرايوي پلاوي غړي محمد اسماعيل قاسميار ازادي راډيو ته وويل: «داوودزی له خپل سفره راضي دی. دی په دې عقيده دی چې د پاکستان د حکومت، سياست او پوځ ترمنځ د افغان سولې او ثبات اړوند يوه همغږي رامنځته شوې او له سياسي پلوه عمومي روحيه هم داسې ده چې د سولې په ګټه زمينه برابرولی شي.»

د سولې عالي شورا دا هم وايي چې د پاکستان اوسني کمزوري اقتصادي وضعيت ته په کتو، هغه هېواد منلې چې افغان سوله د پاکستان د اقتصاد په ګټه ده، له همدې امله غواړي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د مذاکراتو لپاره هڅې وکړي.

## ولسي جرګه: د بشري حقونو د نړيوال سازمان له لوري پر خالد لګېدلي تورونه بې بنسټه دي

د ولسي جرګې د شکايتونو د اورېدو کمېسيون، د بشري حقونو د نړيوال کمېسيون هغه راپور رد کړ چې د دفاع وزارت سرپرست اسدالله خالد يې له بشري حقونو څخه په سرغړونه تورن کړی دی.

د دغه کمېسيون رييس عبيدالله بارکزي له ازادي راډيو سره په خبرو کې پر خالد لګېدلي تورونه رد کړل او نوموړی يې پر هېواد مين ملي شخصيت ياد کړ.

نوموړي وويل: «کاملاً يې ردوو، د دوی دا فيصله د افغانستان د خلکو د ملي ګټو پرضد ده، د افغانستان د خلکو د سرنوشت پر ضد ده، د استقلاليت پرضد ده».

بارکزي وويل، د ملي يووالي په حکومت کې داسې ډېرې څېرې شته چې بشري ضد جرمونه يې ښکاره او ټولو ته معلوم دي. د بشري حقونو نړيوال سازمان بايد د هغوی د جنايتونو په اړه څرګندونې وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د بشري حقونو نړيوال سازمان پرون په يو راپور کې د دفاع وزارت سرپرست اسدالله خالد د بشري حقونو سرغړونکی بللی او ويلي يې دي چې نوموړي په کندهار کې د ولايت پرمهال، شخصي زندانونه درلودل او خلک يې پکې شکنجه کول.

په راپور کې راغلي چې خالد د قربانيانو کورنۍ ګواښلې وې او ورته ويلي يې وو، که په دې اړه څه ووايي، وبه يې وژني.

د بشري حقونو نړيوال سازمان په دغه راپور کې ويلي چې افغان حکومت د خالد د محاکمې اراده نه لري. دوی دغه راز له مرسته کوونکو هېوادونو وغوښتل چې د نوموړي په محاکمه کولو کې مرسته وکړي.

په راپور کې وړاندې راغلي، د امريکا متحده ايالتونه او کاناډا د خپلو قوانينو له مخې، خالد د قانون منګولو ته سپارلی شي او له دوی څخه يې غوښتي چې په دې برخه کې لاس په کار شي.

ياد سازمان دغه راز له اروپايي ټولنې هم غوښتي چې پر افغان حکومت بنديزونه ولګوي او له دغه هېواد سره خپلې مرستې بندې کړي.

د بشري حقونو نړيوال سازمان داسې مهال په افغانستان کې د بشري حقونو د سرغړوونکو او جنګي جنايتکارانو د محاکمې غږ پورته کړی، چې مخکې له دې د ۲۰۱۷ ز کال په وروستيو کې په هاګ کې د جرمونو نړيوالې محکمې له افغانانو غوښتي وو، څو د ۲۰۱۸ ز کال تر جنورۍ پورې په خپل هېواد کې د جنګي او بشري حقونو ضد جرمونو پېښې له دوی سره په انلاين ډول ثبت کړي. د معلوماتو له مخې، يوازې په دې لړ کې ۱،۱۷ ميليونو افغانانو له دې محکمې سره خپل شکايتونه ثبت کړي دي، خو يادې محکمې تر اوسه پورې په دې تړاو په رسمي ډول د خپلو څېړنو اعلان نه دی کړی او نه يې هم پر يادو جرمونو د تورنو کسانو نومونه افشا کړي دي.

## شنونکي: په افغان سوله کې د ځينو هېوادونو رول بې ګټې دی

د افغانستان د سولې په اړه په سيمه ييزه او نړيواله کچه د هڅو له زياتوالي سره يو وخت د سولې په بهير کې د سيمې د ځينو هېوادونو رول ګټور او د ځينو بې ګټې بلل کېږي.

سياسي شنونکي وايي، د سيمې هېوادونه په مثبت رول سره کولای شي چې افغان سوله برياليتوب ته ورسوي، خو دوی ټينګار کوي چې د سيمې او نړۍ د هېوادونو ګډون بايد د افغان حکومت او طالبان ترمنځ مخامخ خبرو ته د زمينې برابرولو تر بريده وي.

د نړيوالو اړيکو کارپوه عبداللطيف نظري ازادي راډيو ته ويلي، په افغان سوله کې د سيمې د هېوادونو رول بايد په سمه توګه مديريت شي او دغه رول بايد منفي سياليو ته لار هواره نه کړي.

نوموړي زياته کړې: «که چېرې د افغانستان او د نړيوالو همکارانو له لوري يې مديريت ته پام وشي، زه فکر کوم چې د سيمې د هېوادونو ګډون به د افغان سولې لپاره په ګټه وي او که چېرې ښه مديريت نه شي، زما په باور، نيابتي جنګ او سيالۍ به رامنځته کړي او دغه موضوع د سولې بهير پرې کوي او زياتې ستونزې به جوړې کړي.»

دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې د افغان سولې په اړه افغانستان او سيمې ته د امريکايي او افغان چارواکو سفرونه زيات شوي او هڅې کېږي چې د سولې د پروسې په اړه سيمه ييز ملاتړ زيات کړي. په ورته وخت کې ټاکل شوې چې خليلزاد سيمې ته په تازه سفر کې له چينايي او هندي همداشان له پاکستاني او افغان چارواکو سره هم ووينې.

له بل لوري د ملي امنيت سلاکار حمدالله محب چين او هند ته سفرونه کړي او له سعودي چارواکو سره د ليدنې په هدف رياض ته رسېدلی.

په همدې حال کې يوه طالب پلاوي هم له روسي، پاکستاني او ايراني چارواکو سره ليدلي دي.

د افغان سولې لپاره د سيمه ييز ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره هڅې داسې مهال کېږي چې خليلزاد او طالبانو څو ځلې په قطر او متحده عربي اماراتو کې سره ليدلي، خو طالب پلاوي په ابوظبۍ کې له افغان پلاوي سره ليدنه رد کړې ده.

# سرور دانش: په ټاکنيزو کمېسيونونو کې فساد د ملت او دولت باور ته جدي زيان رسولی دی



د ولسمشر دويم مرستيال سرور دانش د ټاکنو پر خپلواک کمېسيون تونديې نيوکې کړې دي. د ده په خبره، دغه کمېسيون د خلکو په حق کې جفا کړې ده او د دوی رايو ته يې درناوی نه دی کړی. د ولسمشر دويم مرستيال د (حقوقي مرستو ملي کنگرې) په پرانيستغونډه کې د خبرو پر مهال وويل چې ټاکنې د ولسواکۍ بنسټ او د خلکو مدني حق دی. د نوموړي په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسيون د خلکو دغه مدني حق ته زيان رسولی او هغه ته يې درناوی نه دی کړی.

دانش وايي، په ټاکنيزو کمېسيونونو کې فساد او کمکاري د دې سبب شوې چې د ملت او دولت باور ته زيان ورسېږي. دغه کمېسيون خلک پر ټاکنو او دولت بې باوره کړي دي او داسې فکر کوي چې د ولس رايه ارزښت نه لري. سرور دانش همدا راز خبرداری ورکړی چې که د ټاکنو په خپلواک کمېسيون کې اوسنی فساد موجود وي، نو راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې به تر دې هم زياتې له ناندريو او ستونزو ډکې وي. هغه ويلي چې حکومت به په ټاکنيزو کمېسيونونو کې پراخ اصلاحات راولي. دانش وايي: «د ټاکنيزو کمېسيونونو کړنو، کمکاريو، فساد او بې نظميو ملت او دولت بې باوره کړل، نو ځکه اوس د حکومت مسووليت دی چې په دغه کمېسيونونو کې پراخ اصلاحات راولي، څو راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې له فساد او ناندريو پرته ترسره شي».

هغه د ډېرو نيوکو ترڅنگ پر دغه کمېسيون يوه نيوکه دا هم وکړه، چې د دريو مياشتو په تېرېدو يې لاهم د کابل ولايت د ولسي جرگې د ټاکنو پايلې نه دي اعلان کړې. د هغه په خبره، د ټاکنيزو کمېسيونونو دغو کمکاريو د خلکو حوصله تنگه کړې ده او کمېسيون ته پکار ده چې د خلکو غوښتنو ته پام وکړي.

سرور دانش په دې غونډه کې د خبرو پر مهال همدا راز په عدلي او قضايي برخه کې هم پر شته فساد او ستونزو نيوکه وکړه. هغه وويل، دغه ارگانونه بايد په خپلو چارو کې اصلاحات راولي او شته ستونزې له منځه يوسي.

بل پلو د ټاکنو خپلواک کمېسيون بيا وايي چې دوی د خلکو رايو ته درناوی لري او شفافيت ته ژمن دي. د دغه کمېسيون کمېشنر سيد حفيظ الله هاشمي وايي، د دوی کشفي برخې خپل کار کوي او هر هغه څوک چې په فساد او درغليو کې ښکېل وي، د قانون منگولو ته يې سپاري. د نوموړي په خبره، ښايي د ټاکنو په کمېسيون کې ستونزې وي، خو کشفي ارگانونه دنده لري چې دغه موارد روښانه او پر وړاندې يې قانوني اقدامات ترسره کړي.

تر دې وړاندې هم د ټاکنو پر خپلواک کمېسيون ډېرې نيوکې شوې وې. ډېرو گوندونو او پر ټاکنو څارونکو ټولنو ويلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون هنگرونه د رايو د پلور او پېر پر بازار بدل شوي دي او دغه کمېسيون په لوی لاس د رايو د بيا شمېرنې تر نامه لاندې فساد او درغليو ته لاره هواره کړې ده. سياسي گوندونه، پر ټاکنو څارونکې ټولنې او مدني فعالان وايي چې د ټاکنو کمېسيون اوسنيو ستونزو او کمکاريو ته په کتو، دغه کمېسيون د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو د ترسره کولو وړتيا نه لري. خو بل پلو داسې راپورونه خپاره شوي چې ښايي تر ولسمشريزو ټاکنو مخکې د ټاکنو په خپلواک کمېسيون کې پراخ اصلاحات او بدلونونه رامنځ ته شي.

# کانونو وزارت: په ۵۸۴ سيمو کې مو د ناقانوني کيندنو مخه نيولې ده

د کانونو او پټروليم وزارت چارواکي وايي، له يوه کال راهيسې په ځه باندې ۵۸۴ سيمو کې د کانونو د ناقانونه کيندنو مخه نيول شوې ده. دوی وايي، په يادو سيمو کې د ناقانونه کيندنو او استخراج چارې د کانونو د خونديتوب کمېټې له خوا درول شوې دي. دا هغه کمېټه ده چې له يوه کال راهيسې د ولسمشر د حکم پر اساس د کانونو د خونديتوب لپاره جوړه شوې ده او بېلابېل امنيتي ارگانونه يې غړيتوب لري.

د کانونو وزارت وياند عبدالقدير مطفي ازادي راډيو ته ويلي، دې کمېټې په خپل وروستي راپور کې ويلي چې د کار له پيله يې هغه سيمې ټرلې دي چې هم ساختماني مواد او هم صنعتي منرالونه پکې په ناقانونه توگه ايستل کېدل.

نوموړي زياته کړې: «په دې کې هم ساختماني مواد وو، هم صنعتي منرالونه، هم نيمه قېمتي ډبرې او تزئيناتي ډبرې وې چې په مجموع کې استخراج يې ډېر اسانه دی. په هغو برخو کې استخراج شوی چې ډېرې اسانتياوې پکې وې. مثلاً د ډېرو سکرو په برخه کې مخنيوی شوی. په ځينو ساحو کې د ريگ شويي له لارې خلکو د سرو زرو استخراج کاوه چې مخه يې نيول شوې ده.»

يادې سيمې په کابل، پروان، غزني، کندهار، ننگرهار، لوگر، ميدان وردگ، جوزجان، بغلان، تخار، بدخشان، کاپيسا او ځينو نورو ولايتونو کې موقعيت لري.

د دغه وزارت چارواکي وايي، دا لړۍ دوام لري او ځينې نورې سيمې يې هم په نښه کړې چې د ناقانونه کيندنو مخه به پکې ونيول شي، خو په دې اړه يې ډېر جزيات ورنه کړل.

مطفي دغه راز وويل: «په ۵۸۴ نقطو کې داسې ځايونه هم شته چې د وسله والو مخالفينو سره وو، خو اوس د کانونو وزارت تر بشپړ کنټرول لاندې دي. داسې سيمې هم شته چې په انفرادي ډول استخراج کېدې، د سيمې د خلکو له خوا او داسې سيمې هم شته چې زورواکي پکې دخيل وو او له هغو راخلاصې شوې دي. پرته له شکه ځينې کسان نيول شوي هم دي چې امنيتي ارگانونه يې بايد په اړه وضاحت ورکړي.»

د مطفي په خبره، د کانونو وزارت د ستراتېژۍ له مخې، له عامو خلکو سره چې په خپل سر کيندنې کوي، د رسمي کوچنيو قراردادونو تدبير نيول شوی، څو هم د کانونو وزارت وکولای شي له دې لارې عوايد ترلاسه کړي او هم څارنه پرې ولري او هم په عين وخت کې خلکو ته کاري زمينې برابرې شي.

# هند: په افغان سوله کې د اتلس کلنې لاسته راوړنې خوندي شي

هند وايي، د افغان سولې لپاره د ټولو هغو هڅو ملاتړ کوي چې د افغانانو په مشرۍ او مالکيت ترسره کېږي، خو د سولې په دې هڅو کې بايد د ۱۸ کلونو لاسته راوړنې وساتل شي.

د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزيرې سوشما سواراج دغه څرگندونې پرون د ازبکستان په پلازمېنه عشق اباد کې د (مرکزي اسيا، هند او افغانستان) د بهرنيو چارو وزيرانو غونډې ته وکړې.

د افغانستان د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين هم چې په دغه کنفرانس کې يې گډون کړی و، وويل، هند او د منځنۍ اسيا هېوادونه له پېړيو راهيسې له افغانستان سره اړيکي لري، له پخوا راهيسې سوداگري کوي او خلک يې تگ راتگ کوي.

د نوموړي په وينا، هند او د منځنۍ اسيا هېوادونه په افغانستان کې د تلپاتې سولې، ثبات او امنيت لپاره گډې همکارۍ لري.

سواراج وويل، هند د افغانستان د خلکو او حکومت د هغو هڅو ملاتړ کوي چې په خپل هېواد کې د تلپاتې سولې، خپلواکۍ او پرمختگ لپاره يې کوي.

هغې دا هم وويل چې حکومت يې د سولې له ټولو هغو هڅو ملاتړ کوي چې د افغانانو په مشرۍ او مالکيت ترسره کېږي.

د هغې په خبره، د سولې په دغو هڅو کې بايد د افغانستان د تېرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنې وساتل شي او د افغانانو پر ضد پيل شوې شخړه او ترهگري د نوره ختمه شي.

سواراج وويل، هېواد يې په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره له ۳ ميلياردو ډالرو زياتې مرستې کړې دي.

هغې په افغانستان کې د خپل هېواد په مرستو د ترسره شوو او ترسره کېدونکو د بيارغونې پروژو يادونه وکړه او ويې ويل چې هر کال ۳۵۰۰ افغان محصلين هند ته د لوړو زده کړو لپاره لېږل کېږي.

سواراج وويل، سوله بيز او با ثباته افغانستان سوېلي اسيا له مرکزي اسيا سره ترې او دغه کار د سيمې د ټولو هېوادونو اقتصاد پياوړی کوي.

هغې په دې برخه کې د چابهار بندر يادونه وکړه چې د هند، افغانستان او ايران په گډو هڅو يې فعاليت پيل کړی دی.

هغې زياته کړه، هند غواړي چې له چابهاره د ايران تر زاهدان ښاره پورې د اورگاډي ليکه وغځوي چې له دې سره به چابهار د افغانستان زرنج- دلارام لويې لارې ته نږدې شي.

# پامپيو: له سوريې د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته به هلته مېشت کرد جنگيالي خوندي وي



د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ويلي، له خپل ترکي سيال مولود چاووش اوغلو سره تر خبرو وروسته خوشبين دی چې له سوريې څخه د امريکايي سرتېرو تر وتلو وروسته به د سوريې د کردانو د خونديتوب لارې پيدا شي او هم به ترکان دا فرصت ولري چې د ترهگرو پر وړاندې د خپل هېواد دفاع وکړي.

پامپيو زياته کړې، له چاوش اوغلو سره يې په ټيليفوني خبرو کې د امريکا او ترکيې د اړيکو په گډون، د سوريې پر موضوع او هم په ترکيه کې د امريکايانو د توقيف په اړه بحث کړی دی. د امريکا او ترکيې ترمنځ اړيکې په سوريه کې د کردانو د «وای پي جي» له ملېشو څخه د امريکا د ملاتړ له کبله چې ترکيه يې ترهگر بولي، ترينگلې دي.

ترکيه دغه کرد ځواکونه د «پي کي کې» يا د کردستان د کارگر گوند چې فعاليت يې ممنوع اعلان شوی، غړي بولي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير دغه راز ويلي، د سوريې لپاره د امريکا ځانگړي استازي جېم جيفري په دې وروستيو ورځو کې د سوريې شمال ختيځ ته سفر کړی او ډېر ژر به انقرې ته هم ولاړ شي، څو په سوريه کې د اته کلنې جگړې د ختمېدو لپاره د ملگرو ملتونو په مشرۍ، د سياسي پروسې پر پرمختگ او نورو مسايلو بحث وکړي.

نوموړي زياته کړې، د دمشق او د سوريې د کردانو تر منځ خبرې کولی شي چې په سوريه کې د سياسي حللارې يوه برخه شي.

د کرد ملېشو په مشرۍ ډلې چې د سوريې د شمال ځينې برخې يې په واک کې دي، وېره لري چې له سوريې د امريکايي سرتېرو د وتلو په صورت کې به ترکيه، وربانديې بريد وکړي.

ترکيه بيا دغه ډلې چې د دوی پولو ته نږدې مېشت دي، د خپل هېواد لپاره امنيتي گواښ بولي. دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ، د تېر زېږديز کال په ډسمبر کې له سوريې د امريکايي سرتېرو د ايستلو اعلان وکړ.

په همدې حال کې د اسوشيټېډ پرېس خبري اژانس، د امريکا د دفاعي چارواکو له قوله راپور ورکړی چې امريکا له سوريې څخه د پوځي تجهيزاتو ايستل پيل کړي دي.

د دغه راپور له مخې، تمه ده چې شاوخوا دوه زره امريکايي سرتېري په راتلونکو اونيو کې له سوريې څخه ووځي. د امريکا د بهرنيو چارو وزير چې سيمې ته د سفر په ترځ کې ابوظبۍ ته تللی، ويلي چې له سوريې څخه د امريکايي سرتېرو وتل يو تکتيکي بدلون دی.

د پامپيو په خبره، د اسلامي دولت ډلې د له منځه وړلو ماموريت او په سيمه کې د ايران د نفوذ پر وړاندې مقابله پر خپل حال پاتېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵،٤۰ |
| € | ۸٦،۳۰ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۰۷۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦،۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 19:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د نړۍ تر ټولو پاک ځايونه په کومو هېوادونو کې دي؟

حميدالله حميدي

انسانان طبيعتاً پاک او ښايسته ځايونه او دغه راز تازه او ملايمه هوا خوښوي، خو له بده مرغه اوس د نړۍ ډېری سيمې خپله د انسانانو په لاس پر داسې ځايونو بدلې شوې دي، چې ورځ تر بلې پکې ژوند سختېږي. د يوه ښار د پاک ساتلو لپاره د ښاروالۍ قوانينو پر عملي کولو سربېره، نورو هڅو ته هم اړتيا شته چې ښاريان يې بايد عملي کړي. پر ښاروالۍ سربېره، د عامو خلکو دنده دا ده چې د ښار په پاکوالي کې مرسته وکړي، څو يو ښايسته او پاک چاپېريال ولرو. په دې ليکنه کې هغو ښارونو ته اشاره شوې ده چې د ښارونو په پاکوالي کې د خلکو هڅو او کار رنگ راوړی،څو خپلو نورو هېواد والو ته له دوړو او چټليو پاک ښار ډالۍ کړي.

**۱- زوريخ- سويس**

راځئ دغه ليکنه پر يوه داسې ښار پيل کړو چې په زرغونوالي او پاکۍ کې يې نړيوال شهرت خپل کړی دی. د زوريخ ښار ۴۰۰ زره نفوس لري چې ډېری وگړي يې د لېږد رالېږد لپاره له بايسکل څخه کار اخلي او په ورځنيو چارو کې له داسې توکو کار اخلي چې بيا بيا وکارول شي او تر ټولو ښه کار يې دا دی چې لويې لارې يې له ښاره ډېرې لرې تېرې کړې دي، داسې چې نه يې د موټرو غږ او نه يې هم دود د خلکو لپاره مزاحمت کوي.

**۲-ولينگټون-نيوزلينډ**

ولينگټون د نيوزلينډ پلازمېنه او تر ټولو ستر ښار دی. دغه ښار د سيل او چکر لپاره څو ځايونه لري چې تر اوسه په ښه ډول ساتل شوي دي او دغه ښار بيا د نړۍ په پاکو ښارونو کې هم راځي. د دغه ښار يو پر درې برخه خلک د انجن لرونکو وسايطو پر ځای له عادي نقليه وسايطو څخه کار اخلي، چې د ښار په پاکوالي کې يې مثبت رول لوبولی دی.

**۳-افران- مراکش**

په افريقايي ښارونو کې چې کولی شو د پاکو ښارونو په ډله کې يې حساب کړو، افران يې ښه مثال او تر ټولو مشهور دی. په دغه ښار کې هېڅ صنعتي فابريکه نشته. هوا يې ښکلې ده، اوبه يې پرېمانه دي او گڼې زرغونې سيمې لري. دغه ښار په ژمي کې ډېرو واورو پوښلی وي، همدا لامل دی چې د سکي لوبې لپاره له بېلابېلو سيمو ډېر خلک ورځي.

**۴- اسلو- ناروې**

اسلو د ناروې پلازمېنه او د نړۍ تر ټولو گران بيه ښار بلل کېږي، خو هغه کسان چې په دغه ښار کې د اوسېدو امکانات ولري، پاکه هوا او ښکلې فضا يې بې مثاله ده. دا چې د دغه ښار په نږدې ځايونو کې د لېږد رالېږد لپاره له عادي او بې ماشينه وسايلو کار اخيستل کېږي، نو د هوا له پاکوالي سره يې هم تر ډېره مرسته کړې ده. که تاسو اسلو ښار ته ولاړ شئ، په اسانۍ سره به دغه ډول وسايطو ته لاس رسی ولرئ. (Readers Digest) مجلې په ۲۰۱۷ ز کال کې اوسلو د نړۍ دويم پاک ښار معرفي کړی و.

**۵- ال هېرو- اسپانيا**

ال هېرو په اصل کې د ښارونو په ډله کې نه راځي؛ ځکه دا يوه جزيره ده چې په اسپانيا پورې اړوندېږي، خو دا چې سږ کال يې د پاکوالي له کبله د خلکو پام ور جلب کړی و، ځکه خو يې دغه لېست ته لاره موندلې ده. يوازې سږ کال ال هېرو د خپلې طبيعي انرژۍ په وسيله د دغه ښار ۷۰۰۰ کسانو ته څلور ويشت ساعته برېښنا برابره کړې وه. دغه ښار لويې شنې غونډۍ او گڼ ځنگلونه هم لري چې د هوا پر پاکوالي سر بېره يې ځانگړې ښکلا هم رامنځته کړې ده.

**٦- فرايبورگ- آلمان**

دغه ښار د ۲۲۰ زره نفوس په لرلو سره د المان تر ټولو گرم او لمر لرونکی ښار شمېرل کېږي. پر دې سره بېره پاک سرکونه، ښکلي پارکونه او تازه هوا يې د خلکو لپاره يو بل نعمت دی. فرايبورگ د نړۍ د هېوادونو په پاکو سيمو کې ځانگړی نوم لري.

**۷- ټورنټو- کاناډا**

ټورنټو د خلکو لپاره يوه نمونه ده چې له ډېر نفوس سره سره بيا هم يو لوی ښار پاک ساتل کېدای شي. ټورنټو لکه څه ډول چې په چټکۍ سره د ودې په حال کې دی، مسوولين يې توانېدلي چې د گل خانه يي گازونو په کموالي هم بريالي شي. دغه ښار د لېږدرالېږد لپاره ځانگړی او پېچلی سيستم لري چې د ښار له پاکوالي سره يې ډېره مرسته کړې ده.

**۸- امسټرډام- هالنډ**

امسټرډام په ټول ښار کې ٦۰۰کرايي بايسکلونه لري چې اوس په نړۍ کې د بايسکل سوارانو په ښار هم مشهور شوی دی. دغه څه د ښار له پاکوالي سره خورا مرسته کړې ده. امسټرډام په ۲۰۱۲ ز کال کې د (Economist Intelligence Unit) بنسټ له خوا د ژوند کولو لپاره تر ټولو مناسب ښار هم بلل شوی و.

**۹- بريزبن- اسټراليا**

د اسټراليا ډېری ښارونه پاک او د ژوند کولو لپاره خورا مناسب دي، خو دا چې ولې بريزبن ډېر مشهور دی؛ دا ځکه چې له لويوالي او دوه اعشاريه درې ميليونه نفوس سره سره بيا هم د پاکو ښارونو په ډله کې راغلی، دا يې د اوسېدونکو کمال دی چې د خپل ښار پاکوالي ته ځانگړې پاملرنه کوي او د خپل کور په سترگه ورته گوري.

**۱۰ پورټلنډ- اورگون- د امريکا متحده ايالتونه**

پورټلنډ له دې کبله د پاکو ښارونو په ډله کې راغلی چې د پلي تگ لپاره پراخې او اوږدې لارې لري چې د همدغو لارو د لنډولو لپاره خلک له بايسکلونو څخه کار اخلي او د پلي تگ ترڅنگ چې د روغتيا لپاره گټور بلل کېږي، په تلو تلو کې خلک له ښايسته او شنه چاپېريال څخه هم خوند اخلي. دغه ښار د سيل او چکر لپاره ډېرې شنې سيمې لري چې لږ تر لږه ۴ زره هکټاره ځمکه پکې يوازې د پارک لپاره ځانگړې شوې ده.

**۱۱- استکهلم- سويډن**

استکهلم د نړۍ يو له پاکو پلازمېنو څخه شمېرل کېږي چې په ۲۰۱۲ ز کال کې يې د اروپا د شنو پلازمېنو د کمېسيون جايزه هم اخيستې او د اروپا د لومړنۍ او پاکې پلازمېنې لقب ورکړل شو. په دغه ښار کې د پاکوالي لپاره پراخ کمپاين پيل شوی او هر څوک ورته د خپل اصلي کور په سترگه گوري او د پاکولو لپاره يې هڅه کوي او خپل مسووليت يې بولي.

**۱۲-ناټينگهام-برېټانيا**

برېټانيا هم د هغو هېوادونو په ډله کې راځي چې گڼ ښارونه او سړکونه يې پاکې او د يوه ښه چاپېريال درلودونکي دي. له دغو ښارونو يو هم ناټينگهام دی چې د انگلستان په مرکز کې پروت دی. د دغه ښار پر دېوالونو د ښار د پاک ساتلو لپاره پراخ کمپاين شوی دی چې په ۲۰۱۴ ز کال کې يې د نړۍ د پاکو ښارونو جايزه هم تر لاسه کړې ده.

**۱۳- کوبه- جاپان**

کوبه د جاپان د پاکو ښارونو په ډله کې راځي چې د کثافات دانيو لپاره يې پرمختللی سيستم جوړ کړی دی. د دغه ښار لويې لارې او سيمې ډېرې پاکې دي، داسې چې فکر به وکړې هېڅ انسان پکې ژوند نه دی کړی او يا همدا اوس د کومو ځانگړو مراسمو لپاره پکې تياری نيول شوی دی. که څه هم چې دغه ښار پنځه اعشاريه يو ميليون نفوس لري، خو بيا هم پکې د ژوند کولو لپاره پراخ امکانات په پام کې نيول شوي دي او خلک يې د ښار له پاک ساتلو سره ډېره مينه لري او خپله وجيبه يې بولي.

**۱۴- لوگزامبورگ- لوگزامبورگ**

د لوگزامبورگ ښار د اروپا د شنه ښار په نامه هم مشهور دی. دغه ښار پراخې تاريخي سيمې او گڼ شنه ځنگلونه لري چې تېر کال د نړۍ دريیم پاک ښار پېژندل شوی و.

**۱۵- کلگري- کاناډا**

کلگري د ځينو ځانگړو دليلونو له مخې په وروستيو څو کلونو کې کال په کال د پاک ښار په توگه پېژندل کېږي. د دغه ښار اوسېدونکو ته پنځه شيان د يوه اصل په توگه ور زده کېږي، څو خپل ښار پاک وساتي چې په رښتيا سر هم دغه پنځه اصول چې تر ټولو مشهور اصل يې د فاضلابو لپاره د يوه منظم سيستم جوړول دي، د ښار په پاکوالي کې خورا مرسته کوي.

**۱٦-سنگاپور**

سنگاپور يوازينی جزيره لرونکی ښار دی چې د ځينو سختو قوانينو په لرلو سره توانېدلی، څو يو پاک ښار ولري. په دغه ښار کې د ژاولو ژول په کلي توگه منعه دي. د ښار په سلو کې لسمه برخه د شنو او تفرېحي پارکونو لپاره ځانگړې شوې ده او خلک يې مکلف کړي، څو خپل ښار پاک وساتي.

**۱۷- کوريتيبيا-برازيل**

که څه هم چې برازيل د پاکو هېوادونو په ډله کې نه راځي، خو د کورتيبيا ښار بيا په دغه هېواد کې استثنا دی. د دغه هېواد محلي دولت خلک د ښار پر پاکوالي مکلف کړي دي او د هرې هغې تېروتنې لپاره يې ځانگړې شرايط، قوانين او جريمې وضعه کړې دي چې د چاپېريال د ککړتيا لامل کېږي. هغه کسان چې د ښار پاکوالي ته پاملرنه کوي، هڅول کېږي او په ورځني ډول ۷۰ کثافات دانۍ په دغه ښار کې کارول کېږي چې د شپې له خوا يې ټولې ببرته پاکېږي او پر خپل ځای اېښودل کېږي.

**۱۸- جنيوا، سويس**

جنيوا يو له شتمنو، گرانو او امنو ښارونو څخه دی چې د ژوند لپاره خورا مناسب دی. يوه بله ځانگړنه هم لري، هغه دا چې د ډېر پاکوالي له کبله اوس د نړۍ په پاکو ښارونو کې راځي. په دغه ښار کې يوه ځانگړې نړيواله اداره کار کوي چې يوازينۍ دنده يې د ښار پاکوالي ته پاملرنه کول دي او بس.

**۱۹- وين- اتريش**

وين چې د اتريش تر ټولو لوی ښار او پلازمېنه ده، د ۸،۱ ميليون نفوس په درلودو سره يې خپل ځای د پاکو ښارونو په نوملړ کې لا هم ساتلی دی. په دغه ښار کې ډېره پانگونه د کثافات دانيو په رغولو شوې ده. په دغه ښار کې داسې کثافات دانۍ جوړې شوې دي چې د اړتيا پر مهال ترې د سړک گټه هم اخيستل کېږي.

**۲۰- کوپنهاگن- ډنمارک**

کوپنهاگن د ډنمارک پلازمېنه ده چې په نړۍ کې د پاک او شنه طبيعت په درلودو سره شهرت لري. د دغه ښار مسوولينو د خپلو ژمنو د عملي کولو له کبله په ۲۰۱۴ ز کال کې د درېيم ځل لپاره د نړيوال شنه اقتصاد لقب په خپلولو سره د نړۍ لومړنی شين ښار وپېژندل شو.

## سرور دانش: په عدلي او قضايي ارگانونوکې لاهم پراخې ستونزې شته

په عدلي او قضايي ارگانونو کې د موجوده ستونزو او ننگونو په اړه په وار وار د خلکو تر شکايتونو وروسته، جمهوري رياست هم په دغو ارگانونو کې شته ستونزې تاييدوي.

د ولسمشر دويم مرستيال سرور دانش تېره ورځ په دې اړه د افغانستان د حقوقي مرستو ملي کنگرې ته وويل: «لاهم فساد، ناامنيو، د بشري ظرفيت کمښت، د دولتي ادارو ترمنځ د همغږۍ نشتون، له کاره لوېدلي اداري سيستم، د زېربناوو نشتون او په ناامنو سيمو کې د عدلي او قضايي ارگانونو د کار کوونکو نه حضور، د عدلي او قضايي خدماتو پر وړاندې له شته خنډونو څخه دي».

نومورې همدارنگه د مدافع وکيلانو کمښت، د څېړنو او کشف په پړاوونو کې حقوقي مرستو ته کم ارزښت ورکول نورې ستونزې يادې کړې.

د دانش په خبره، د معيارونو پر بنسټ ۳۰ ميليونو وگړو ته د نږدې ۱۵ زره مدافع وکيلانو او حقوقي مرستو اړتيا ليدل کېږي، په داسې حال کې چې دا شمېره اوس ۵ زرو ته رسېږي.

خو دانش دغه راز په عدلي او قضايي ارگانونو کې له ځينو پرمختگونو هم يادونه وکړه.

ده له اداري فساد سره د مبارزې ملي ستراتېژي، د عدلي او قضايي اصلاحاتو پروگرام، د ۴۰۰ تنو د تقنيني اسنادو ترلاس لاندې نيول او په قضا او څارنوالۍ کې اصلاحات له مهمو پرمختگونو وگڼل.

دانش دا څرگندونې په داسې حال کې کوي چې تر دې وړاندې ولسمشر غني له فساد سره د مبارزې د نړيوالې ورځې نمانځغونډې ته وويل، په بېلابېلو برخو کې په ځانگړې ډول، په عدلي او قضايي ادارو کې لازم اصلاحات راغلي دي.

د حکومت اجرايه رييس عبدالله عبدالله هم تر دې مخکې ويلي وو چې د افغانستان لويه څارنوالي په ښه لوري روانه ده او د قانون د حاکميت لپاره په افغانستان کې اساسي گامونه اخيستل شوي دي، خو د راپورونو پر بنسټ، اداري فساد، په ولسواليو کې د محاکمو او څارنواليو کم فعاليت او په عدلي او قضايي ارگانونو کې اړيکې د دې لامل شوې چې خلک غير رسمي محاکمو ته مخه کړي.

په ورته وخت کې د عدليې وزير عبدالبصير انور په دې ناسته کې که څه هم له ځينو لاسته راوړنو يادونه وکړه، خو ويې ويل چې د حقوقي مرستو په برخه کې دوی له ستونزو سره مخ دي.

نومورې وويل: «موږ د نړيوال بانک له لوري ۷۷ د حقوقي مرستو بستونه درلودل، خو د نړيوال بانک د پروژې په ختمېدو سره د ۲۰۱۷ ميلادي کال په مې مياشت کې موږ له ستونزو سره مخ شوو. له بل لوري د قانون د حاکميت عالي شورا د کارکوونکو د امتيازاتو په تړاو ځينې پرېکړې وکړې چې تر اوسه پلې شوې نه دي.»

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** محمد نظيم سمون، جاويد کوټوال او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

المبارک

توریستي شرکت

flydubai

TURKISH AIRLINES

Emirates

ARIANA

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۲۴مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۱۴مه | دویم کال | ۳۱۷مه گڼه

www.Maseerdaily.af  twitter/MaseerDaily  Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۵ | ۱۹ | ۱۹ | ۱۰ | ۱۷ |
| -۸ | ۱۰ | ۲ | ۵ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۴۷ | لمر ختل ۰۷:۱۳ | ماسپښین ۱۲:۱۹ | مازیگر ۰۳:۴۸ | ماښام ۰۵:۲۵ | ماخوستن ۰۶:۵۲

## نړۍ



## پامپیو: له سوریې د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته به هلته مېشت کرد جنگیالي خوندي وي


۳


## منبع: ملابرادر برای سهم‌گیری در روند سیاسی طالبان به قطر رفته‌است



شیخ محمد بن عبدالرحمان آلثانی، وزیر خارجهٔ قطر می‌گوید که دوحه یکجا با واشنگتن در روند صلح افغانستان کار می‌کند و وجود دفتر سیاسی طالبان در قطر یکی از نمونه‌های تلاش‌های قطر در روند صلح افغانستان است.

او در دیدارش با مایک پامپیو، وزیر خارجهٔ امریکا تأکید کرد که قطر تلاش خواهد کرد تا در روندهای سیاسی افغانستان سهم بگیرد.

در همین حال، مایک پامپیو، وزیر خارجه امریکا می‌گوید که امریکا برای رسیده‌گی به چالش‌های امنیتی منطقه‌یی به شمول افغانستان یکجا با قطر کار می‌کند. وی افزود: «ایالات متحده و قطر یکجا کار می‌کنند تا به شماری از چالش‌های امنیتی منطقه‌یی به شمول افغانستان و عراق رسیده‌گی کنند».

در همین حال، منابع نزدیک به گروهٔ طالبان، تأیید می‌کنند که ملاعبدالغنی برادر، یکی از رهبران این گروه به قطر رفته است.

این منابع، می‌گویند که تاکنون در بارهٔ چگونگی عضویت ملابرادر در چارچوب هیئت سیاسی این گروه در قطر توافق نشده است، اما در آیندهٔ نزدیک اعضای این گروه در این باره تصمیم خواهند گرفت.

ملاغنی برادر، دو ماه پیش همزمان با آغاز تلاش‌های ایالات متحده امریکا برای کشانیدن طالبان به میز گفت‌وگوها و سفر زلمی خلیلزاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان، به پاکستان از یک زندان در پاکستان آزاد شد.

به گفتهٔ منابع، این عضو گروه طالبان با پادرمیانی آقای خلیلزاد از زندان آزاد شده است تا روند گفت‌وگوهای صلح را تسهیل کند.

در همین حال، شورای عالی صلح، نقش ملابرادر را در گفت‌وگوهای صلح بسیار مهم می‌داند و از طالبان می‌خواهد که هیئت گفت‌وگوکنندهٔ شان را با حکومت افغانستان، مشخص بسازند.

## دوامداره کډون!

## مشارکت دوامدار!




د افغانستان په اړه د جنیوا په وروستي کنفرانس کې نړیوالې ټولنې یو ځلې بیا له افغانانو او د افغانستان له دولت سره د سولې د ټینګښت او سوکالۍ په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه. دغه راز افغان دولت په دغه کنفرانس کې د پرمختګونو او اصلاحاتو د راوستلو په اړه خپله ژمنه تازه کړه.

د جنیوا کنفرانس د افغان دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د ملګرتیا د دوام یو ښه فرصت و. همدا شان نړیوالې ټولنې تر ۱۳۹۹ کال پورې د افغانستان د پرمختګ لپاره د ۱۵،۲ میلیارد ډالرو مرسته تایید کړه.







کنفرانس اخیر جنیوا در مورد افغانستان، همکاری جامعه جهانی با مردم و دولت افغانستان برای آوردن صلح و رفاه را نشان داد. در این کنفرانس دولت افغانستان نیز تعهداتش را برای آوردن اصلاحات و پیشرفت تجدید کرد.

کنفرانس جنیوا یک فرصت خوب برای دولت افغانستان و جامعه جهانی برای ادامه همکاری بود. همچنان جامعه جهانی تصمیم خود برای کمک ۱۵,۲ میلیارد دالری برای توسعه افغانستان تا سال ۱۳۹۹ را دوباره تایید کرد.